# التحریم

مدنی سورة دی ۱۲ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ١

ای پیغمبره! ولې د خپلو میرمنو د خوشالولو لپاره، د الله تعالی حلال شیان په ځان حراموې؟ الله تعالی ډیر زیات بښونکی او مهربان ذات دی( او تا او ستا بیبیانو ته به بښنه وکړی).

قَدۡ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمۡ تَحِلَّةَ أَيۡمَٰنِكُمۡۚ وَٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٢

بې له شکه چې الله تعالی تاسو ته له قسمونو څخه د خلاصون لاره ټاکلې ده( چې کولی شی د کفارې په ورکولو سره خپل سوگندونه مات او له محدودیتونو څخه ځانونه خلاص کړی)او الله تعالی ستاسو مرستندوی او په ټولو چارو پوه او
حکیم ذات دی.

وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا فَلَمَّا نَبَّأَتۡ بِهِۦ وَأَظۡهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ
عَرَّفَ بَعۡضَهُۥ وَأَعۡرَضَ عَنۢ بَعۡضٖۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ
نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣

او کله چې پیغمبر( صلی الله علیه و سلم) خپلې یوې میرمنې( حفصې) ته پټه خبره وکړه( او د راز ساتلو سپارښتنه یې هم پرې وکړه) خو هغې دغه موضوع له بلې میرمن( عایشه) سره شریکه کړه. او الله تعالی خپل رسول د راز د افشا کیدو له حال څخه خبر کړ. پیغمبر( له خپلې میرمنې حفصې څخه د راز د افشا کیدو د علت پوښتنه وکړه او د اثبات لپاره یې) د خپل راز یوه برخه ورته بیان او څه برخه یې ترې پټه وساتله. (حفصې) پوښتنه وکړه:( ای د الله رسوله!) چا خبر کړې چې ما ستا راز (عایشې ته) رسولی دی؟ پیغمبر وویل: پوه او با خبره ذات( الله تعالی) خبر کړم.

إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ
مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ
ظَهِيرٌ ﴿٤﴾

که تاسو دواړه میرمنې له خپل دغه عمل نه توبه وباسی( نو الله تعالی به مو توبه قبوله کړی) ځکه ستاسو دواړو زړونه( د راز ساتلو له عالی صفت څخه چې پیغمبر ورسره مینه لری) منحرف شوی، او که د پیغمبر په ضد لاسونه سره یو کړی( نو هیڅ ګټه نشئ تر لاسه کولی) ځکه الله تعالی یې مرستندوی دی، او له هغه وروسته جبرئیل او نیک عمله مؤمنان او ملائک د هغه ملاتړی او مرسته کوونکی دی.

عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُۥٓ أَزْوَٰجًا خَيْرًا مِّنكُنَّ مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ
قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٍ سَٰٓئِحَٰتٍ ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴿٥﴾

که پیغمبر تاسو ته طلاق درکړی، نو امید دی چې الله تعالی به ستاسو په نسبت لا نورې ډیرې ښځې هغه ته ورکړی، چې ربښتینې مسلمانې، مؤمنانې، اطاعت کوونکی، توبه ویستونکی، عبادت کوونکې، روژه نیوونکې، کونډې او پیغلې به وی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ
وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ
وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾

ای مؤمنانو! خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له هغه اور نه وساتئ چې د سون مواد یې انسانان او ډبرې دی، ډیر سخت زړی او قوی هیکله ملائک ورباندې ولاړ دی، د الله تعالی له امر نه هیڅ سرغړونه، نه کوی او یوازې هغه کار کوی چې امر ورته وشی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْيَوْمَ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧﴾

( په هغه ورځ به ووایی) ای کافرانو! نن عذرونه مه وړاندې کوئ بلکه نن به تاسو د خپلو اعمالو نتایج ترلاسه کړئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ
عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا
ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ
بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ
إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨

**اى مؤمنانو! د الله تعالى حضور ته توبه وباسى، مخلصانه توبه( چې تاسو د ګناه له تکرار نه وساتى)، هيله ده چې رب به مو درنه ګناهونه ورژوى او په هغو جنتونو کې به مو هستوګن کړى چې( د ونو او ماڼيو) لاندې يې( د الهى نعمتونو) رودونه بهيږى. هغه ورځ چې الله تعالى به خپل رسول او د هغه مؤمن پيروان خوار او ذليل نه کړى، رڼا به يې له دوى وړاندې او ښى اړخ نه په سرعت سره روانه وى، او دوى به وايى: اى ربه! زمونږ نور زمونږ لپاره کامل کړه او مونږ ته ښښنه وکړه بيشکه چې ته په هر کار برلاسى او قدرتمند ذات يې.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ
وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٩

**اى پيغمبره! له کافرانو او منافقانو سره جهاد وکړه او سختى ورباندې راوله، د دوى هستوګنځى دوزخ دى چې د ورتګ لپاره تر ټولو بد ځاى دى.**

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱمْرَأَتَ نُوحٍ وَٱمْرَأَتَ لُوطٍ ۖ
كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَـٰلِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا
عَنْهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا وَقِيلَ ٱدْخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ﴿١٠﴾

**الله تعالی کافرانو ته د نوح او لوط د ښځو مثال وړاندې کوی چې زمونږ د دوو نیکو او صالحو بندګانو په نکاح کې وې، دواړو( د دین په چارو کې له پیغمبرانو سره) خیانت وکړ، خو( پیغمبرانو) د الهی عذاب یوه ټوټه هم له هغو دواړو ښځو نه دفع نه کړی شوه، او د مرګ په وخت دواړو( ښځو) ته وویل شول چې له نورو دوزخیانو په شان اور ته ننوزئ.**

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱمْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ
رَبِّ ٱبْنِ لِى عِندَكَ بَيْتًا فِى ٱلْجَنَّةِ وَنَجِّنِى مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِى
مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١١﴾

**او( دغه راز) الله تعالی مؤمنانو ته د فرعون د ښځې مثال وړاندې کوی چې ویل یې: ای زما ربه! له خپل حضوره زما لپاره په جنت کې یو کور منظور کړه، او د فرعون او د هغه له کردار او عمل نه راته نجات راکړه او په ظالمانو کې مې مه شمیره.**

وَمَرْيَمَ ٱبْنَتَ عِمْرَٰنَ ٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن
رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَـٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَـٰنِتِينَ ﴿١٢﴾

**او د عمران د لور مریم مثال دراواخلئ چې خپله لمن یې پاکه وساتله، او مونږ یې( په ګریوان کې) خپل روح ورپو کړ، او هغې د الله تعالی کلمات او کتابونه تصدیق کړل او د الهی فرمانونو له اطاعت کوونکو ښځه وه.**
**« تمت سورة التحريم بفضل الله و رحمته»**
**====================**